



## استاد قيام الدين خادم:

استاد خادم د پښتو ادبياتو په اسمان کې له هغو پنځو ځلانده او نومياليو ستورو څخه دی، چې په خپلو اغېزناکو، ګټورو او ارزښتمنو منظومو او منثورو علمي، ادبي، ټولنيز، فلسفي، سياسي او څېړنيزو نښيرونو (اثارو) يې د علم، ادب، شعر او شاعرۍ، فولکلور، تاريخ او سياست نړۍ تل غوړيدلې او روښانه ساتلې ده. استاد خادم د پښتو ژبې رښتينی خدمتګار، پياوړی عالم، کره کتونکی، څېړونکی، نوښتګر شاعر، پوخ ليکوال او د ملي او فلسفي اندونو او افکارو خاوند شخصيت وو. استاد خادم د خپل ژوند په اوږدو کې هېواد، هېوادوالو ته په تيره بيا پښتنو، پښتو ژبې او پشتونولۍ، ادب او فرهنګ ته د ستاينې او پامور چوپړ او خدمتونه ترسره کړې دي. استاد خادم ډېر ګټور او اغېزناک کابو تر (٦٠) عنوانو پورې ځانګړي نښيرونه(اثار) کښلې دي، چې په خپلو نښيرونو(اثارو) کې يې علمي، ادبي، سياسي، تاريخي، ټولنيز، ديني موضوعات، مسايل او پيغامونه څېړلې دي. استاد خادم په عربي، اردو او دري- پاړسي ژبو هم پوهېدو او ډېر نښيرونه(اثار)يې له دغو ژبو څخه هم ژباړلې دي. ګڼ شمېر شعري ټولګې يې هم چاپ شوې دي. دی هغه عالم

وو، چې ژور فلسفي، اصلاحي اندو فکر یې درلود او تل یې هڅه کوله چې موضوعات او مسایل په ښه، معیاري او علمي بڼه وڅېړي. استاد قیام الدین خادم پر (۱۳۲۵ هـ ق) کال د ننگرهار ولایت د «کامې» په ولسوالۍ په یوې عالمې کورنۍ کې زېږېدلی دی. د استاد خادم پلار «ملا حسام الدین» او نیکه یې «ملا علي گل اخونزاده» هم د خپل وخت دیني عالمان ول. استاد خادم په خټه «زاخیل مومند» دی او خپلې لومړنۍ زده کړې یې په ننگرهار، پېښور او هند کې سر ته رسولې دي او د منطق، صرف، نحوه، تفسیر، حدیث او نورو موروجو علومو د لوستلو څخه وروسته په جلال اباد کې د لومړني ښوونځي د ښوونکي په توگه په رسمي ډول کار پیل کړ. پر (۱۳۱۱ش) کال د کندهار په پښتو انجمن کې شامل شو او له دغه وخته یې د لیکوالۍ بنسټیز پېر او دوره پیل شوه. لنډه دا چې استاد خادم په بېلابېلو کلتوري، ادبي او فرهنگي برخو کې خپلې دندې تر سره کړې دي.

استاد قیام الدین خادم د ویښ زلمیانو یو له فعاله بنسټ ایښودونکو څخه دی، چې پر (۱۹۷۹)زېږدیز کال کې مړ شوی دی او په خپله پلرنۍ هدیره او مړستون په «کامه» کې خاورو ته وسپارل شو.

**دا هم د استاد قیام الدین خادم اغېزناکې او گټورې خبرې او وېناوې:**

- ټول قومي او ملي بریالیتوبونه د یوالي زېږنده دي، خو یوالی پسرلنی باران نه دی، چې په خپله ورېږي، د هر ملت د یووالي تاداوونه د هغه ملت خواخوږي پوهان و فلاسفه ږدي.

- پښتانه عموماً تُورې ته ډېر اهمیت ورکوي او دا په دوی کې یوه ملې عنعنه ده، چې پښتون باید ضرور توریالی، شمشېر زن او بهادر اوسي، د میدان نه به هېڅکله مخ نه اړوي او نه به شا گرځوي او ضرور به میدان گټي یا به مري.

- د پښتو او پښتونولۍ کلمه اوسنۍ نه ده ، له زرگونو کلو څخه چې پښتون ځان د پښتون په حیث پېژندلی دی، نو پښتو او پښتونولي ورسره ده. هر شی علامه لري او د هر شي د شناخت او پېژندگلوۍ لپاره نښې نښانې پیدا شوې دي او د پښتون د پېژندگلوۍ نښه او مارک پښتو او پښتونولي ده.

- اوس لازمه ده چې پښتانه خپل ملي جوړښت ته جدي توجه وکړي او د هر قسم استعمار نه ورته نجات ورکړي.

- له دې ښکاره او څرگند حقیقت څخه هېڅوک حتی هېڅ ولس او قام انکار نه شي کولی چې یو ځل په یوه ملت کې د خپلواکۍ او ازادۍ غوښتلو روحیه او جذبه راژوندۍ شوه او احساسات یې راوپارېدل، هرو مرو د خطر په مقابل کې لکه د زمري په شان مقاومت کوي، تر څو چې په خپلو ارزوگانو بریالی شي.

- متقابل احترام د متقابل چلند پر بنسټ ولاړ دی، ته باید یو چا سره ښه وکړې چې بل هم درسره ښه وکړي، داسې نه چې ته تر بله ځان په پوهه، مال او ټولنیز موقف کې لوړ وگڼې او له بله بیا هیله وکړې، څه چې ته غواړې بل یې باید هماغه شان درسره ومني.

- ملت پرور د ملي سعادت او لوړتیا په مخه کې د وطن د ارتقا او برم په لار کې له کور، کلي او قوم څخه تېر وي، ملي ګټې ته له هرې يوې بلې ګټې ته ترجیح ورکوي. دا حس چا کې نه شي پیدا کېدای، تر څو چې پوه نه شي، سترګې يې خلاصې نه شي په خپل او د جهان په احوال خبر نه شي.

- د ژوند سعادت او خوښي د مادیاتو په زیاتوالي او ډېروالي پورې دومره اړه نه لري، لکه د ضمیر په ازادۍ او د روح په خوشالۍ پورې.

- په ژوند کې خطرناک او مدهش حال دادی چې اوښکې ارزانې شي، وېره، دهشت او درد موجود وي او دوا يې نه وي!

- د زړه د درد علاج پخپله د زړه درد دی او بس!

- اې خدایه موږ نه هغه زړونه واخله چې د مظلوم او بې وزلو له سترګو څخه په عبث تویدونکو مرغلرو نه خوږیږي او هغه لاس او پښې او ژبه مه راکوه چې بې لاسو او بې پښو ته صدمه رسوي او خلک ژړوي!!!

- موږ د هیچا په پل نه ځو، په خپله لار ځو، هیله لرو چې لاره د افغان او افغانستان لپاره سمه او د نجات لار ثابته شي، سوال کوو چې زموږ له زړونو څخه د غرض، تمې او جاه طلبۍ خبرې و ایستل شي!

- کېدی شي چې نور کارونه په زور وچلېږي، خو قلم نازک شی دی، پر ده چې زور راشي ماتېږي.

- قلم زور نه مني، قلم زنځیرونه شلوي، قلم د ټوپک ملا ماتوي، قلم د خبرو شی دی، خبرې انځوروي او ذهن تخنوي. د نورو د سترګو کسي پرې ګډوي، سترګو ته اوبه ورکوي، تُورو ته ساه ورکوي، نو له قلم او قلموال سره چلن هره زمانه باید تعبیر او تفسیر کړي.

- تُوره په خپل ځای دېکتاتوره ده او قلم په خپل ځای، وړاندېوالی هغه وخت کېږي چې دا دواړه احترامانه اتفاق وکړي.

- د وطن ډلې او ګوندونه چې د وطن وي زموږ وروڼه دي، د قلم او کار وګړي مو عزیزان دي او هم مسلکان، هیچا ته نه لرو خیال د تاوان او نه ډاریږو له کوم زیان، دا دنیا ده د سودو زیان، هیڅوک نه پاتې کیږی په یو شان!

- د باداری وخت تیر بولو، نه يې کوو او نه يې منو، په داخل کې وروري او په خارج کې مساویانه دوستي ښه سلوک دی، په خارجي سیاست کې توازن ضرور دی، خو ښېتانه د نېکۍ او احسان بدله په ځان پور ګڼي!

- دلته په دې ملک کې سپرغی دي او لمبې، پټې په ایرو کې پرتې دي او ویدې، په دې غرونو کې اورتونونه دي پټ، نه ښایي چې په تیلي شي پاشان، دا ملک دی د افغان.

- خوشال په ټوله مانا شاعر دی، خو رحمان تر شاعر پورته مقام لري.

- سیاستوال باید د ټولنې د پرمختګ، سرلوړۍ او سوکالۍ په فکر کې وي.

- دین، وطن، دولت او ملت ته په احترام قایل یو، شرع او قانون محترم ګڼو، ولې چې دا د بهبودۍ او سرېتوب لویه لار ده، په دې کې دی د هر چا وقار.

- شاعر د بیتونو سازوونکی نه، د قومونو جوړوونکی دی.

- پښتانه، شاعري په غزل شروع کوي.

- استاد قیام الدین خادم د **(علم، شعر، سیاست)** په تړاو داسې وایي:

علم: اکتشاف! شعر: احساس! او سیاست: کول دي!

عالم فکر کوي. شاعر خبرې کوي او سیاست عملا کار کوي!

عالم ګوري، شاعر خاندي او ژاړي او سیاستدان لوبې کوي!

علم د مغز، شعر د زړه او سیاست د ګېډې او غړیو پورې تعلق لري!

عالم قوانین، شاعر ملل (ملتونه) او سیاست دان دړلې جوړوي!

عالم تخم پیدا کوي، شاعر یې کري او خړوبوي او سیاست دان یې رېبي او حاصل یې اخلي!

زنده ګي یو سرسبزه او ښېرازه ونه ده. علم یې بېخ، شعر یې تنه او سیاست یې مېوه ده!

- استاد قیام الدین خادم د **(مینې او محبت)** په اړوند داسې وایي:

- د سبا د باد په شان مې هره ځانګه وخوځوله،

د غرو سرونه مې وکاته، صحرا او چمنونونه مې ولټول،

د شینلیو په فرش ورغښتم، د ګل په پاڼو و ګرځېدم،

له بلبل سره هم اواز شوم،

د نریو ویالو د خرامان تګ سره ملګری شوم،

ولې، شيرين اشنا مې نه کړ پيدا !!!

بلبل را نه والوت! گل را نه مخ د پاڼو په پلو پټ کړ!

اوبه را نه په مستۍ مستۍ تېرې شوې!

زه د مينې تږې او د محبت وږی!!!

آه، زه مينه او محبت لټوم!!!

***

**په درنښت او ادبي مينه: انجنير عبدالقادر مسعود**